د شيخ حماسي، د هاتف مختار او دوبندي صيب د پام وړ:

# په دين کې زور زياتی ((لا اکراه في الدين)) نشته

## لاينكح الأب وغيره البكر والثيب الا برضاها

سيد حسين پاچا

**د طالبانو په استخباراتي پروژه کې بيا هر څه د دوی لپاره جايز دي. ان تر دې چې د کرنيل امام په کتاب ((د افغانستان د جهاد داستان)) کې بيا شراب وړه گناه شمېرل شوي ((د خدای لاره کې جهاد له پاره هرڅه روا دي. کله چې ته د خدای ج د دين ساتنه کوې، نو هغه بيا ستا داسې وړو وړو غلطيوته نه گوري))، نو وهل، ټکول او نورې نامشروع اړيکې خو ورته هډو گناه نه ښکاري**

عن عائشة رضي الله عنها مرفوعاً :((ما ضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا قَطّ بيده، ولا امرأة ولا خادما، إلا أن يجاهد في سبيل الله، وما نيل منه شيء قَطُّ فينتقم من صاحبه، إلا أن ينتهك شيء من محارم الله تعالى، فينتقم لله تعالى)). [صحيح] رواه مسلم؛ شيخ حماسي، دوبندي او ټول حقانيان دې خپل خانونه يو ځلې د ايمان و اسلام، انصاف او هم د ښه سلوک په رڼا کې وگوري. منافق، ظالم او د خدای ناترسه به هغه څوک وي چې هغه زياتی گوري او بيا هم حق پټوي. سياسي ملاتړ کوي او خپل زياتي ته لا بيا مذهبي رنگ هم ورکوي. د قاري سعيد سوگند ((په رب العالمين)) او د هغې مظلومې د بدن زخمونه او هم د حماسي و دوبندي پر غاړه زوررو د ناروا ملاتړ خبرې سره ښکاره په ټکر کې دي. الله تعالى د حق طرفدار دی نه د ناحق. رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅکله پر چا لاس نه دی پورته کړی، خو موږ څه کوو؟

حديث أنس τقال: كنت أمشي مع رسول الله ﷺ وعليه بُردٌ نجراني غليض الحاشية، فأدركه أعرابي، فجبذه بردائه جبذة شديدة، فنظرت إلى صفحة عاتق النبي ﷺ وقد أثرت بها حاشية الرداء من شدة جبذته، ثم قال: يا محمد، مر لي من مال الله الذي عندك، فالتفت إليه، فضحك ثم أمر له بعطاء. متفق عليه

ضرب الزوجة ساعة الغضب

يقول الشيخ يوسف القرضاوي :

**لا يقبل الإسلام أن تقوم الحياة الزوجية على إهانة المرأة، أو الإساءة إليها بقول أو فعل، فلا يجوز بحال أن تسب أو تشتم وخصوصًا أمام أطفالها، بل إن الإسلام يمنع سب الحيوانات والجمادات، فكيف بالإنسان؟ وكيف بالزوجة التي هي ربة بيته، وشريكة حياته، وأم أولاده، وأقرب الناس إليه؟؟.**

**لقد شدد الرسول الكريم -صلى الله عليه وسلم- على امرأة لعنت ناقتها فأمر أن تترك الناقة ولا يستخدمها أحد، وحرمت منها صاحبتها، ردعًا لها على سبها ولعنها للناقة، فكيف بلعن الإنسان المسلم وسبه؟.!**

**السؤال:**

كيف الجمع بين قول الله تعالى :وَاضْرِبُوهُنَّ ]النساء:34] وبين قول الرسول ﷺ :ليس من خياركم من يضرب زوجته أو كما قال؟

**الجواب:**


لا منافاة؛ فإن الرسول ﷺ أراد بذلك أن لا يسارعوا بالضرب، وليس من الصفات الخيرة المسارعة إلى الضرب، بل الضرب آخر الطب، الضرب يكون هو آخر الطب، قبله الهجر، وقبله الوعظ.

فينبغي للزوج أن لا يلجأ إلى الضرب إلا عند الضرورة، وعند الحاجة، وعند عدم جدوى الوسائل الأخرى؛ لأن الضرب قد يغيرها عليه أكثر، وقد يسيئ أخلاقها، ويسبب فراقها، ويثير أهلها أيضًا، ولاسيما في هذا العصر، الضرب في هذا العصر يسبب مشاكل كثيرة، فينبغي للزوج أن لا يعجل، وألا يسارع إلى الضرب إلا عند الحاجة، وأمن العاقبة، أمن العواقب السيئة.

فإذا كان ضربها يفضي إلى فراقه لها، وإلى قيام أهلها عليه، وإلى حصول مشكلة كبرى؛ فينبغي تجنب الضرب، والصبر على ما قد يقع من سوء الأخلاق، حتى يعجل الله الحال بطرق العلاج الذي هو الوعظ، والتذكير، أو الهجر، فالزوج ينبغي أن يكون حكيمًا؛ لأن الضرب يترتب عليه مشاكل، وربما أفضى إلى غير المطلوب، والمراد به التعديل، والمراد به أن تراجع خطأها، فإذا كان الضرب يفضي إلى خلاف ذلك، وإلى مزيد السوء، وإلى مزيد المشاكل، وإلى تفاقم الأمور، فينبغي تركه، وعدم فعله.

الحاصل **:**أن الضرب رخصة، رخص فيها ربنا(ج) للتأديب إذا دعت الحاجة إليه بعدما قدم عليه من الوعظ، والهجر، وليس من الأفضل أن يسارع إليه، أو يفرح به، أو يتخذه علاجًا دائمًا لا، بل الأفضل أن يؤخر، وأن لا يعجل؛ جمعًا بين النصوص.




aamaj news
Subtitles/closed captions unavailable


قاري سعيد خوستي يوې نجلۍ سره غلط کار4ویډیوګانې
1:40


قاري سعيد خوستي په اړه پلټنې، څېړنې پیل شوې
1:39


دا ړمه د قاری سعید خوستی نکاح کړې ښځه ده
دا ښځه څوک ده
د چا لپاره یې دا کار وکړو
10:04






نوټ : زه له شيخ حماسي، مولوي ضياء الرحمان اصغر، توريالي همت، قاري سعيد او دوی ته ورته اشخاصو نه ګيله نه کوم، بلکي له دغه تولنپوه چې ځانته ارواه پوه او تولنپوه وايی او له ځان سره يې د ډاکټر مختاری هم نښلولی دی او پر ځان باندي له هر اړخيز پلوه حساب کوي، نو هيله ده چې دغي لينک ته ښه په غور سره درې - څلور ځلي غوږ کښېږدي، دا ځکه چې دی هر کتاب څلور ځله لولي او په هر ځل ترې بېلابېل تفسير اخلي..

[توبه استغفرالله، يو تالب چاړواکی د خپل يو تالب کارمن له مېرمني څخه په زوره د غلط کار غوښتنه کوي.]

ښاغلی ټولنپوه ډاکټر مختار،
تاسې خو ځانته ډاکټر او ټولنپوه وایی. پوهنتون دې لوستی او تر نورو پورې لوستی او مسلکې یاست او ځان اسلامي مبارزې ته هم ژمن بولئ.
تا ته خو پته ده وایي چې یوه ورځ یو غل یا مجرم د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په دربار کې عدالت ته وړاندې شو چې عدالت پرې پلی شي، نو غل/مجرم ورته وویل:
ما ته دا ځل مهلت راکړه یعني خوشې کړه او بیا به یې نه کوم، نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته وویل چې :
((نه)) او نه دې خوشې کوم او ورته یې وویل :
الله تعالی په یو ځل، دوه ځلې یا درې ځلې څوک نه رسوا کوي، خو له دې بریښې چې تا دا کړنه (عم) څو ځلې کړې او د دې کار مرتکب شوی یې، نو ځکه ښکاره شوی او ونیول شوې. اوس دې نه پرېږدم / نه خوشې کوم او سزا به درته زه اوس پخپله درکوم.

ته او رب العالمین دې چې دا پوهنتونې زده کړې تا همدې ناروا ملاتړ لپاره کړې دي؟
ایا دا د ملت پیسې (بودجه) په تا باندې د همدې لپاره لګول شوې ده؟
ایا که یو څوک ستا له مېرمن، خور او لور سره دغسې کړنې هغه هم چې د ملي امنیت یا استخباراتو په دفتر کې وشي، نو ستا خپل غبرګون به څه وي؟
ایا ته به پرې خوښ اوسې چې همداسې غلې پاتې شې؟
بیا هم که تاسې چوپ پاتې شئ، نو ستا د خور، لور او مېرمن غبرګون به څنګه وي؟
تاسې دا خپلې پوهنتونې زده کړې او د ټولنپوهنې دکتور دې څنګه توجیه کوئ؟
ایا ایمانًا واخلاقًا دا روایه چې تاسې دې خپلو پوهنتونې زده کړو او خپل مسلک ته درناوی لرئ؟

د الله تعالی انصافداره،
سمه ده چې هغه به قاري وي او عالم به وي، خو دا د دې مانا نه لري چې هغه به له جُرم / ګناه نه پاک او مبره وي. انسان دی او له هر انسان څخه ګناه او تېروتنه (خطا) کېږي، خو دا چې اوس تاسې ترې ننګه کوئ، نو دا ستا له شان یا په نورو ټکو ستا علم دین سره زیاتی دی او هغه دا چې تاسې د قاري په باره کې په ناحقه ګواهي ورکوئ او د هغې جینۍ په باره کې ناسم ګومان کوئ. زه باور لرم چې نوموړی به د دندې له اشغال راوروسته په لا نورو ډېرو نامشروع کړنو او جرایمو کې ښکېل وي.

سمه ده چې قاري ستا د ډلې تبلې سړی دی او ته به ترې ننګه و ملاتړ وکړې، خو الله تعالی د حق طرفدار دی او حق خوښوي. خدای مه کړه که قاري صاحب دا جرم کړی وي او هغه مظلومه وي، نو تاسې به د محشر پر ورځ څه کوئ؟
ایا دا دې پر ځان لوریږي چې خپل ایمان د بل لپاره خراب کړې؟
ایا ته به ربنتونی یې او که الله تعالی؟
یوم یفر المرء من اخیه وامیه وابیه ....
د خپلې کورنۍ غړي چې یو له بله تښتي، نو زما وستا به څه حال وي؟

زما مشوره او نصیحت تا ته دا دی چي له رب العالمین څخه په دي قضیه کي وډار شه او خپل ایمان د بل چا لپاره مه خرابوه ولو که د ګوند و عقیدي یا نظریاتي ((ایډیولوژیک)) ملګری دي هم وي.

در تورخم مرا دستګیر کرد و در کابل مرا به زندان آورد. و در زندان با من بسیار یک رفتار بد شد. مرا بسیار لت و کوب کرد. در داخل زندان دو تن آمد بسیار لت و کوب شدم.
در همین روز یک هفته قبل برم به تورخم فرار کردم.

بي بي سي پښتو :

## په ویډیو کې د مېرمنې ادعا او د قاري سعید ځواب

په خپره شوې ویډیو کې دا مېرمن خان الهه معرفي کوي او بیا وايي چې په تېره "سلواغه میاشت کې -کله چې برحاله ویاند وو- قاري سعید خوستي په زور او جبر د ملي امنیت ریاست د ننه له ما سره نکاح وکړه، زه ډېره ووهل شوم، هلته پر ما 'تېری' وشو، نه پوهېدم څه وکړم دوی فلم رانه ډک کړ - سعید خوستي مې وېډیو ډکه کړه".
الهه په دې وېډیو کې ادعا کوي چې "ډېرو کرکجنو کارونو ته یې اړایستلم، هره شپه یې پر ما تېری کاوه او وهلم ټکولم به یې".




دی Twitter پوسټ نه تېرشئ, 1

د پوسټ Twitter پای, 1

دا وايي، د تورخم کمېشنرۍ کې د پاسپورټ ټاپه کولو په وخت کې يې ونيوله او وايي ښايي تر دې وړدیو خپرولو وروسته هېڅوک دا ونه ويني "ښايي زه به مړه شم، خو تر زر ځلي مرګه يو ځل مرګ ښه دی".
ښاغلی خوستی وايي، الهه يې "نه وهلې نه ټکولې، د خپل شرعي صلاحيت نه مې استفاده وکړه او د ژوند لاره مې جلا کړه، طلاق مې ورکړو، په خپلې ناسنجول شوې نکاح سخت پښېمان يم".
د طالبانو د کورنيو چارو دغه پخواني وياند له طالبانو او افغان ولس ښښنه هم غوښتې ده.
نومړي چارشنبه په يوه بل ټويټ کې يو ځل بيا ټينګار کړی چې دې مېرمنې ته يې 'آن څپېړه هم نه ده ورکړې'.
قاري سعيد خوستی زياتوي، حاضر دی چې له دې مېرمن سره د طالبانو او يا هرې بلې محکمې ته ولاړ شي.
نومړي له خلکو غوښتې چې له فاميلي موضوع دې سياسي استفاده نه کوي.

امريکا غږ :
په ټولنيزو رسنيو کې د دغې مېرمن چې خپل نوم الهه ښيي، ډېرې ويډيوګانې خپرې شوې دي. الهه وايي، د کابل پوهنتون د طب محصله ده او د تېر کال په سلواغه مياشت کې، وروسته له هغې چې د طالبانو د حکومت د "استخباراتو په رياست کې" ورباندې جنسي تېری وشو، سعيد خوستي هغه په زور په نکاح کړه.

دې مېرمن زياته کړې: "زه يې ډېره ووهلم، هلته (د طالبانو د استخباراتو دفتر کې) راباندې جنسي تېری وشو، نه پوهېدم چې څه وکړم. دوی راڅخه ويډيو ثبت کړه. سعيد خوستي راڅخه فلم ثبت کړ او ګواښ يې راته وکړ چې دا فلم به خپور کړي او زه يې ډېرو ناوړو کارونو ته وهڅولم".

دا د **blackmailing** يا د نامشروع اړيکو باج غوښتنه ده چې د نومړي له لوري تر سره شوې ده.

دا مېرمن همدارنګه ادعا کوي، غوښتل يې پاکستان ته وتښتي، خو د تورخم پر پوله ونيول شوه او بيرته په کابل کې د طالبانو د استخباراتي دفتر زندان ته ولېږدول شوه.

هغې دا ادعا هم وکړه چې طالبانو هغه اړ کړه چې په زندان کې له سعيد خوستي بخښنه وغواړي او د هغه پښې ښکل کړي.

امريکا غږ :
الهي دلاورزۍ په څو ويډويي پيغامونو کې د طالبانو د حکومت د کورنيو چارو وزارت پخوانی وياند سعيد خوستی تورن کړی دی چې په هغې باندې يې جنسي تېری کړی دی. د هغې ويډيوګانې په ټولنيزو رسنيو کې ډېرې خپرې شوې دي. نومړې ويلي دي چې تېر کال د دلوې په مياشت کې سعيد خوستي د «طالبانو د حکومت د استخباراتو په ادارې کې» پرې له جنسي تېري وروسته، په زوره جبري نکاح کولو ته مجبوره شوې ده.

نوموړې زیاته کړې: ((زه یې ډېره ووهلم، هلته [د طالبانو د استخباراتو دفتر کې] راباندې جنسي تېرى وشو، نه پوهېدم چې څه وکړم. دوی راڅخه ویډیو ثبت کړه. سعید خوستي راڅخه فلم ثبت کړ او ګواښ یې راته وکړ چې دا فلم به خپور کړي او زه یې ډېرو ناوړو کارونو ته وهڅولم.))

د بشري حقونو د څار ډلي د الهي په اړه د اندېښنې په ښودلو سربېره د اګست د ۳۱مې نېټې یې د طالبانو د سترې محکمې ته منسوب هغه ټویټ ته هم اشاره کړې ده چې وایي الهه یې د خوستي د بدنامولو په تور نیولې ده.

يا ايها الذين آمنوا لايحل لكم ان ترثوا النساء كرها ولاتعضلوهن لتذهبوا بما آتيتموهن الا ان ياتين بفاحشة مبيّنة وعاشروهن بالمعروف .... [النساء : ۱۹]

كتاب النكاح

**باب لاينكح الأب وغيره البكر والثيب الا برضاها**

**حدثنا معاذ بن فضالة حدثنا هشام عن يحيى عن أبي سلمة أن ابا هريرة حدثهم ان النبي صلى الله عليه وسلم قال ((لاتنكح الايم حتى تستأمر ولاتنكح البكر حتى تستأذن قالوا يا رسول الله وكيف اذنها قال ان تسكت)).**

**باب اذا زوّج ابنته وهى كارهةٌ فنكاحه مردودٌ**

**حدثنا إسماعيل، قال: حدثني مالك، عن عبد الرحمن بن القاسم، عن ابيه، عن عبد الرحمن ومجمع ابني يزيد بن جارية، عن خنساء بنت خذام الانصارية، "ان اباها زوجها وهي ثيب، فكرهت ذلك، فاتت رسول الله صلى الله عليه وسلم، فرد نكاحه."**

صحيح البخاري : ۵۱۳۸

موطأ امام مالک روایة ابن القاسم : ۳۵۲

مسند امام حنبل

الجزء الرابع

حديث : ۲۴۶۹

صفحة : ۲۷۵

حدثنا حسين، حدثنا جرير، عن ايوب، عن عِكرمة، عن ابن عباس رضى الله عنه : ((أن جاريةً بكرًا أتت النبي صلى الله عليه وسلم فذكرت أن أباها زوّجها وهى كارهةً فخيّرها النبي صلى الله عليه وسلم

https://ia802605.us.archive.org/26/items/waqmsnda/msnda04.pdf

ابن ماجة

باب من زوّج ابنته وهى كارهة

حدثنا أبو السقر يحيى بن يزداد العسكري . حدثنا الحسين بن محمد المروروذي . حدثني جرير بن حازم عن أيوب عن عكرمة عن ابن عباس - :أن جارية بكرا أتت النبي صلى الله عليه و سلم . فذكرت له أن أباها زوجها وهي كارهة . فخيرها النبي صلى الله عليه و سلم

حدثنا محمد بن الصباح . أنبأنا معمر بن سليمان الرقي عن يزيد بن حبان عن أيوب السختياني عن عكرمة عن ابن عباس عن النبي صلى الله عليه و سلم مثله.

قال الشيخ الألباني : صحيح

باب استئمار البكر والثيّب

حديث: ١٨٩٨

حدثنا اسماعيل بن موسى السُّديُّ ثنا مالک بن أنس، عن عبدالله ابن أبي الفضل الهاشمي، عن نافع بن جبير بن مطعم، عن ابن عباس قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ((الأئم أولى بنفسها من وليّها، والبكر تستأمر في نفسها))، قيل : يا رسول الله! ان البكر تستحيي أن تتكلم، قال : ((اذنها سكوتها)).

حديث : ١٨٩٩

حدثنا عبدالرحمن بن ابراهيم الدمشقي : ثنا الوليد بن مسلم : ثنا الأوزاعي : حدثني يحيى بن أبي كثير، عن أبي سلمة، عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم : ((لاتنكح الثيّب حتى تستأمر، ولا البكر حتى تستأذن واذنها الصموت)).

باب من زوّج ابنته وهی كارهة

حديث : ١٩٠١

حدثنا ابوبكر بن أبي شيبة، ثنا يزيد بن هارون، عن يحيى بن سعيد، أن القاسم بن محمد أخبره : أن عبدالرحمن بن يزيد ومجمّع بن يزيد الأنصاريين أخبراه : ((أن رجلاً منهم يدعى خذامًا أنكح ابنةً له، فكرهت نكاح أبيها، فأتت رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكرت له، فردّ عليها نكاح أبيها، فنكحت أبا لبابة بن عبدالمنذر وذكر يحيى أنها كانت ثيّبًا.

**باب ما جاء لا نكاح الا باذن ولي**

حدثنا ابن أبي عمر حدثنا سفيان بن عيينة عن ابن جريج عن سليمان بن موسى عن الزهري عن عروة عن عائشة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال أيما امرأة نكحت بغير إذن وليها فنكاحها باطل فنكاحها باطل فنكاحها باطل فإن دخل بها فلها المهر بما استحل من فرجها فإن اشتجروا فالسلطان ولي من لا ولي له قال أبو عيسى هذا حديث حسن.

نکاح خو خلک په کور کي کوي نه د استخباراتو په رياست کي. دلته يو لړ پوښتني لا پر ځای پاتي دي.

=-=-=-=-=-=-=-=

ښځه د انسان پښتو ته غورځول یو نامشروع کړنه (عمل) دی. پښېماني له یو نامشروع عمل نه هغه په توبې سره کیږي او دا په ژبې سره تر سره کیږي چي له الله تعالی سره ژمنه وکړې چي بیا به دا کړنه نه تر سره کوم او الله ته په لمانځه سره تر سره کیږي. بناءً د قاري سعید پښو ته د الهي غورځول هغه د طالبان د استخباراتو په دفتر کي دا یوه نکه نامشروع کړنه ده چي تر سره شوې.

د هغي تېښته له مجبوریته شوې او دا شوني ده چي د نوموړي له لوري ورسره د استخباراتو په دفتر کي هغه کړنې تر سره شوي وي چي هغې رسنیزې کړي دي.

## السيّدة عائشة رضى الله عنها وحادثة الافک

## ((تبرئة الله تعالى لها من فوق سبع سماوات))

...فلم يزل رسول الله صلى الله عليه وسلم يخفضهم، حتى سكتوا وسكت، فبكيت يومي ذلك كله لا يرقأ لي دمع ولا أكتحل بنوم، قالت: وأصبح أبوي عندي، قد بكيت ليلتين ويوما، ولا يرقأ لي دمع لا أكتحل بنوم، حتى إني لأظن أن البكاء فالق كبدي، فبينا أبواي جالسان عندي وأنا أبكي، فاستأذنت علي امرأة من الأنصار فأذنت لها، فجلست تبكي معي، قالت: فبينا نحن على ذلك دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم علينا فسلم ثم جلس، قالت: لم يجلس عندي منذ قيل ما قيل قبلها، وقد لبث شهرا لا يوحى إليه في شأني بشيء، قالت: فتشهد رسول الله صلى الله عليه وسلم حين جلس، ثم قال: (**أما بعد، ياعائشة، إنه بلغني عنك كذا وكذا، فإن كنت بريئة، فسيبرئك الله، وإن كنت ألممت بذنب، فاستغفري الله وتوبي إليه، فإن العبد إذا اعترف ثم تاب، تاب الله عليه**). قالت: عائشة: فلما قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم مقالته قلص دمعي حتى ما أحس منه قطرة، فقلت لأبي: أجب رسول الله صلى الله عليه وسلم عني فيما قال، فقال أبي: والله ما أدري ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم، فقلت لأمي: أجيبي رسول الله صلى الله عليه وسلم فيما قال، قالت أمي: والله ما أدري ما أقول لرسول الله صلى الله عليه وسلم، فقلت: وأنا جارية حديثة السن لا أقرأ من القرآن كثيرا: إني والله لقد علمت: لقد سمعتم هذا الحديث حتى استقر في أنفسكم وصدقتم به، فلئن قلت لكم: إني بريئة، لا تصدقوني، ولئن اعترفت لكم بأمر، والله يعلم أني منه بريئة، لتصدقني، فوالله لا أجد لي ولكم مثلا إلا أبا يوسف حين قال: {فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون}. ثم تحولت واضطجعت على فراشي، والله يعلم أني حينئذ بريئة، وأن الله مبرئي ببراءتي، ولكن والله ما كنت أظن أن الله منزل في شأني وحيا يتلى، لشأني في نفسي كان أحقر من أن يتكلم الله في بأمر، ولكني كنت أرجو أن يرى رسول الله صلى الله عليه وسلم في النوم رؤيا يبرئني الله بها، فوالله ما رام رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلسه، ولا خرج أحد من أهل البيت، حتى أنزل عليه، فأخذه ما كان يأخذه من البرحاء، حتى إنه ليتحدر منه العرق مثل الجمان، وهو في يوم شات، من ثقل القرآن الذي أنزل عليه، قالت: **فسرى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يضحك، فكانت أو كلمة تكلم بها أن قال: (يا عائشة، أما والله فقد برأك). فقالت لي أمي: قومي إليه، فقلت: والله لا أقوم إليه، فإني لا أحمد إلا الله عز وجل ...**

عائشة ام المؤمنين رضی الله تعالی عنها وایی کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته زما په تړاو د پاکی [بې ګناهی] وحیي راغله او ایاتونه نازل شول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له جوماته سیده زما د موروپلار کور ته راغی او خوشاله برېښېده او مسکی وو یا په نورو ټکو تبسم یي پر شونډو وو، نو تر ټولو لومړۍ خبره چي هغه وکړه

- دا وه چي : ((پر خدای چي الله تعالی دې پاکي وکړه))، نو ما ته مې مور وويل چي ((ورته پورته شه / جګه/ولاړه شه)) يعني ورته ودرېږه، نو ما وويل چي ((والله که ورته ودرېږم)) او زه به له الله تعالی پرته د بل چا ستاينه ونه کړم. ښځه د خاوند پښتو ته په غورځولو/اچولو اړ کړل هغه هم بيا د استخباراتو په دفتر کي د نورو نامحرمو په شتون کي دا د انساني کرامت سپکاوی دی.

زه د ډاکټر مختار هاتف په څېر يو انسان ته چي ځان پوه (عالم) او متخصص د ټولنپوهني او ارواه پوه بولي، خو بيا د خپلي هغې سياسي ليدلوري رخې له مخې د يوې مظلومي پېغلي په تړاو په ړندو سترګو قضاوت کوي. حال دا چي الله و رسول صلی الله عليه وسلم موږ ته د انصاف او د حق د ملاتړ خبره کوي او همداسي د سمي روښانه خبرې ((وقولوا قولاً سديدًا)) حکم کوي، خو دغه د عقيدې والا ته چي ايمان واسلام ورته هېڅکله ارزښت نه لري، بلکي خپله هغه سياسي عقيده يا ليدلورى ((ايديولوژي)) ورته ارزښت لري، نو ځکه د يوې ښځينه مظلومي ژړا او فرياد ورته هومره ارزښت نه لري لکه هومره چي ورته استخباراتي جهادي وطالبي پروژې يې لري.

زما پوښتنه له رخه يي ډاکټر هاتف مختاره دا ده چي که عقيده د ايمان واسلام پر ځای خدای او هم رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دومره ارزښت لرلی، نو پخپل اسماني کتاب کي به يې حتی يو ځلي د عقيدې کليمه راوړې وای. ان تر دې چي په ځانګړې توګه سورة المؤمنون د مؤمنانو په باره کي نازل شوی هلته د ايمان واسلام يادونه شوې نه د عقيدې، نو زموږ دغه پر سترګو ړوند ټولنپوه او اروايوه ډاکټر هاتف مختار د کوم دکه و دليل له مخې د ايمان واسلام پر ځای پر عقيده دومره ټينګار کوي؟

که د سيد قطب و محمد قطب او د حسن البناء او يا د سيد ابوالاعلی مودودي په کتابونو کي پر عقيده ټينګار شوی وي، نو هغه خو موږ ته شرعي لاسوند کېدای نه شي، نو دی د کوم صلاحيت له مخې هغې ((الهي)) ته ناوړه تورې کاروي؟ هندوان و بودايان هم د عقيدې ښتنان دي چي غوا او غوا او غوا د بوتانو پرستش کوي، خو ايمان نه لري.

- ايا د ده عقيده يا سياسي ليدلوری ده ته د دې اجازه ورکوي؟
- او که د ده اخلاق او کورنی تربيه ده ته د دې اجازه ورکوي؟
- ايا زموږ ټولنپوه د پښتنو او ګروپرنو، وهلو ټکولو او له هغې د ناوړه فلم يا ويډيو جوړونه کي هلته حاضر او شتون درلود او کنه؟ ځکه ليس الخبر کالمعاينة.

حال دا چي قرآن خو دا وايي چي ((... ان جاءکم فاسق بنبا فتبيّنوا ....)) او دی په اګاهانه او نااګاهانه توګه په مکرر ډول په يو يوټيوبي ويډيو کي له قاري خوستي ننګه کوي او بيا وا يي چي موږ لا شپږ مياشتي مخکي له دې خبرو وو چي څه خبره ده؟ نو ولي دی دا شپږ مياشتي پټه کړې وه؟ ان تر دې چي دی نورو ته د هغې په تړاو محکمې ته د حاضرېدو وړانديز کوي او حال دا چي خپله تر هر چا مخکي ترکي ته راتښتېدلی دی، نو يو تښتېدلی ((فراري)) څنګه

کولی شي چې یوې مظلومې ته د محکمې د حاضرېدو ورانديز کوي چې هغه د برحالي واکمنې اداري د کورنیو چارو د وزارت ویاند چې ټوله استخباراتي او ان تروریستي شبکه یې په لاس کې ده او د هماغې شبکې پر زور یې ترې هلته د هغې د وینا پر بنسټ چې لوڅې ویډیوګانې ډکې کړې دي او نورو ناوړه کړنو ته یې اړ ایستلې ده، نو د کابل پوهنتون چې یو علمي بنسټيز مرکز دی څنګه زمونږ د ټولنې یو ټولنپوه او اروابوه ځانته د دې اجازه ورکوي چې د یوې محصلې د ژوند بوږنوونکې صحنې له یوې ځلمې پر خپل وړانده او رخه یې ((عُقده یې)) قضاوت له مخې وکړي؟

ایا ځانته یې هم همداسې لوریږي؟

د طالبانو اسلامي امارت

افغان جهاد او ۳۵ مثالي ځوانان

د آی ایس آی له افسرانو سره مېلمستیاوې او شراب څښنه

شراب څښنه په وړو غلطیو شمارل

مونږ سره په د آی ایس آی په یو بل ګروپ کې ځینې افسران ملګري وو چې د هغوی مجاهدینو سره په دیني او دهغوی د ذهن جوړولو برخه کې کار کولو.

داسې کسان چې ماښام کې به مونږ کله کله د مشرانو لخوا د شپې ملسمتیا برابرېدله، نو دوی به شراب هم څکل او سهار به بیا د کار په ځای کې داسې وو چې سم پاخه ملایان به ښکارېدل. ما به ورته ویل چې دومره دوه مخې ژوند کول به تاسو ته تجربه کیږي چې څومره ګران دی، خو هغوی به خندل او ویل به یې چې بس اوس مونږ ملایان یو.

نو هلته مې د یو غټ افسر نه د دې پوښتنې د حواري له پاره پوښتنه وکړه هغه یو ساده مثال راکړ او دا بیا زما دې ډلې بیخي قبول کړ.

هغه ویل چې ورته وایه د خدای لاره کې جهاد له پاره هرڅه روا دي کله چې ته د خدای ج د دین ساتنه کوې، نو هغه بیا ستا داسې وړو وړو غلطیوته نه ګوري.

دهغه د خولې یوه عربي جمله خدایزده چرته یې یاده کړې وه اوس هم راته یاده ده او دا مجاهدین پرې راضي شول.

هغه جمله څه داسې وه. (**الضروريات تبيح المحضورات**) یعني ضرورتونه بندیزونه رفع کوي. [۵۱ - ۵۲ مخونه]

سمه بڼه : ((ان الضرورات تبيح المحضورات))

زما نیوکه پر خپل دغه ټولنپوه او اروابوه عُقده یې ښاغلي ډاکټر مختار هاتف باندې دا ده چې د یو مسلکي پوهنتوني لوستي په توګه به ښه دا وه چې نوموړي دغه تور یا ادعا په اړه یو منصفانه قضاوت کړی وای، نه دا چې خپله ایډیولوژیکه عُقده یې پر خپلې یوې بلې افغانۍ د طب د پوهنځي پر محصلې په ناوړه تورو او کلیماتو سره سره کړې ده.

بالفرض که هغه قاري وعالم او مجاهد دی، نو الله تعالی د ظلم پر وړاندې بې تفاوته ده او هغه د مظلومې اواز له اوو اسمانونو پورته اوري، لکه په ((لقد سمع الله قول التي تجادلها في زوجها وتشتكي الى الله)) خدای مه کړه که دا زیاتی د قاري خوستي له لورې د استخباراتو په څانګه کې شوی وي او هغه وېرول شوې وي او ترې د **blackmail** یا په

نورو ټکو په راتلونکي د باج اخېستني په توګه د لا نورو ناوړه او نامشروع اړیکو لپاره ترېنه غوښتنه کېده، نو زموږ دغه اخواني مشربه ټولنپوه او ارواپوه خپل وړوند قضاوت څنګه توجیه کوي؟

ډاکټر مختار هاتف

زه ځواب ورکوم :

- تو همین سند را کجا کردی که این زنداني است؟
- همین سند را از کجا آوردی از لحاظ حقوقي؟
- از کجا آوردی همین سند؟
- مرجع مؤثق دلیل نسبت تو به ادعای ....

او دېته ورته داسي نورې پوښتني او په پای کې بیا پوښتونکي ته وایې چي ((یا من دیوانه استم یا تو)).

https://www.youtube.com/watch?v=T0yKETS4Y44&t=94s

https://www.youtube.com/watch?v=IhmMm9F8iDE&t=40s

https://www.bbc.com/pashto/world-41620374

دی خو ځان ټولنپوه او ارواپوه راپېژني او له په یوټوبي بحثونو کي علمي استدلالونه کوي. د بېلګې په توګه پر پېروني يې نیوکه کوي او د پروني نرخ وقیمت هم ورته معلوم دی، پر اوښکو یې نیوکه کوي، د لاس پر مړوند شین شوي ځای باندې یې نیوکه کوي او وایي چي پر ځان یې غاښونه لګولي دي. د ځای پر موقعیت نیوکه کوي او استدلال کوي چي څه ثبوت لري؟ او داسي نور ډېر د خپلي مړي خېټي عُقده یې پوښتني ګروېږني کوي..

هېښنده لا دا چي بیا دعوه کوي چي زه هر کتاب لږ تر لږه څلور ځلي لولم چي ځان پرې پوه کړم او له هر ځل لوستلو نه بېلابېل تفسیر اخلم، نو دی دې یوځلي دا خپله حافظه او دعوه هم سره پرتله کړي چي ایا د ډاکټر عبدالله او د هغه د مېرمني مریم نجفي کیسه خو هم هغه وخت د ملي امنیت په ریاست کي تېره شوي وه چي امرالله صالح د هغه ریاست مشر وو. کله چي د ټاکنو وخت راغی او پر هغه دغه ډول یوه حقوقي دعوه راپورته شوه چي لا له مخکي نه د فرانسي په محکمه کي پرته وه، نو ټاکنو ته د یو کاندید په توګه د هغه مخته ستونزې راولاړې شوي چي بیا د ولسمشر کرزي پر منځګړیتوب او بېساري ملاتړ هغه خبره ورکه او چوپ شوه، خو د قاري ستونزه چي هوبه هو همغي ته ورته ده څنګه توجیه کړو؟

زما پوښتنه او نیوکه پر دغه ښاغلي دا ده چي تاسي د یو ژمن شعوري مسلمان وافغان په توګه څنګه او کومه سیاسي عقیده لوستې؟ که د ایمان واسلام په رڼا کي دې لوستې وي، خو بیا هډو سوال نه پیدا کیږي چي تاسي دغسي یو بې

سروبوله او د وړندو سترګو قضاوت وکړئ. او که د یوې افراطي عقیدې په رڼا کې دې لوستې وي، نو بیا سمه ده، خو ښه به دا وي چې نوموړی د خپلې سیاسي عقیدې پر ځای پر نصوصي وحدیثي سپارښتنو چې هغه ایمان واسلام واخلاق دي له سره غور او سوچ وکړي.

زما بله نیوکه پرې دا ده که دی سرسخته سرتنبه او سختدریځه نه وي، نو دا پوښتنه دې د کابل له واکمنې اداري نه وکړي چې تاسې د خپلې اردو په دې تشکیلاتو دوه قطعې د ځانمرګیو بریدونو د څه لپاره ورزیاتې کړې؟ څوک ورته روزنه او معاش ورکوي؟ چا دېته وهڅولې او دا ځانمرګي به چېرته کاروئ؟ خدای مه کړه که سبا ته دغسې د ځانمرګیو بریدونو هڅې او پېښې کېږي، نو مسؤولیت به یې د چا پر غاړه وي؟

ښه به دا وي چې زموږ دغه ټولنپوه دا ومني چې که روسانو یرغل کړی وو او ملت یې پر وړاندې لویه سرښندنه وکړه، خو له بده مرغه چې له هغه پیله تر دې دمه پر موږ باندې له جنګ پرته بله پانګونه نه ده شوې. له موږ سره لا تر اوسه د هماغه زاړه استعمار د اصولو په رڼا کې سلیقوي چلند کېږي او هغه دا چې زاړه ښکېلاکګر تر خپل ښکېلاک لاندې ټولو مستعمرو کې خپله تبعه وروزل او همداسې روسانو درواخله چې د خپل ښکېلاک په وخت کې یې ټوله مرکزي اسیا او کمونستي بلاک له زده کړې محروم نه کړ، خو موږ په هغه وخت کې هم محروم شو او په دې وروستیو انډوخرو کې د طالب، مجاهد او د جمهوریت په وخت کې په لوی لاس په کور دننه او بهر په تېره بیا پښتون مېشتې سیمې محرومې پاتې شوې. که پر موږ باندې لږه پانګونه شوې وای، نو له دغسې یو حالت سره به مخ نه وای.

طالب او پنجابي ریاست افغانستان ته د یو هېواد او صوبې په سترګه نه، بلکې د اکوړې استخباراتي مدرسې اړوند یوه څانګه یې بولې او لا نورو مذهبي ستونزو ته هم لمن وهي چې دا کړنې هېڅکله زموږ د هېواد په ګټه نه دي. له تېرو ترخو تجربو موږ باید ګټه پورته کړو. حکومتي واک او هېواد یوازې د طالب میراث نه دی، بلکې دا د ټولو حق دی چې خپل ځانونه پکې سهیم وګڼي. د نورو په نغوته د نجونو ښوونځیو بندونه او د مېرمنو له کاره بندونه د هېچا په ګټه نه ده.

## وړاندیز

په پای کې نړیوالو بشري سازمانونو او ارګانونو ته اړینه ده چې دغه پېښه په خورا ځیر او دقت سره وڅاري او له واکمنې اداري څخه دا ډاډ تر لاسه کړي چې ژوند ته یې لا نور خطر پېښ نه شي او په ژغورلو کې یې مرسته وکړي. تېر ته په کتو تل زموږ تېرو او هم اوسنیو واکمنانو له خپل واک نه ناوړه ګټه اخېستې ده.

کله چې یو مشروع او ډاډمن حکومت رامینځته شو بیا دې ورته د خپلې حقوقي دعوې او ورسره شوي زیاتي په تړاو مرسته او د مدافع وکیل ورکړل شي چې خپله حقوقي دعوه په لا ښه شان سره مخته یوسي او خپل ځانته یو ډاډمنه فضا جوړه کړي چې ژوند یې په راتلونکې لا داسې بوږنوونکو پېښو او زیاتي څخه خوندي او بچ شي. په اوسنیو

حالاتو کې د واکمني اداري محاکم د اعتبار او ډاډ وړ نه دي. واکمنه اداره له مېرمنو سره يو رخه يي ((عُقده يي)) چلند کوي او مېرمنو ته هېو د درناوي په سترګه نه ګوري.

په درنښت

سيد حسين پاچا

د قاري خوستي په اړه د دوبندي صيب خبرې

https://www.youtube.com/watch?v=d8MpTnX4NLg

قاری سعید خوستی په اړه د شیخ حماسی صیب وضاحت

**الهه که نامش بر سر زبان هاست کیست و قاری سعید خوستی با او چی کرد**